# وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

# د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت

## ریاست اطلاعات و ارتباط عامه

# بولتن خبری

# News Bulletin

**7 ثور _سال 1401**


اخبار مهم
افغانستان - منطقه - جهان

## فهرست مطالب

**عنوان** **صفحه**

متن کامل اخبار ---------------------------------------------------------------------------------------------4

**د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزیرد چین له سرپرست سفیر سره وکتل ------------------------------------------4**

**صدهاخانواده در جوزجان کمک خوراکی دریافت نمودند-------------------------------------------------------------5**

**تخار او غورکې کې لسګونو اړمنوکورنیو سره مرسته وشوه---------------------------------------------------------6**

**روندا ته د کډوالو د ستنولو په هکله د برېتانیا او روندا ترمنځ تړون ---------------------------------------------6**

**تیره ورځ پر تورخم درې زره افغانان هیواد ته ستانه شوي -----------------------------------------------------11**

**تشییع جنازه هفت مهاجری که در نتیجه واژگون شدن یک قایق اخیرأ جان های شانرا از دست دادند. ---------------13**

**اتحادیه دو حزب محافظه کار در آلمان: به ۵۰۰ هزار آپارتمان اضافی برای پناهجویان نیاز است -----------------13**

خبرنامه

# متن کامل اخبار

## د مهاجرينو او راستنېدونکو چارو وزيرد چين له سرپرست سفير سره وکتل

د وزارت ويب سايت



د مهاجرينو او راستنېدونکو چارو وزير الحاج خليل الرحمان حقاني په افغانستان کې د چين هېواد له سرپرست سفير ښاغلي "Ding Yinan" سره په خپل کاري دفتر کې وليدل

لومړی ښاغلي " يينان " د افغانستان لپاره د چين هيواد د پاليسی په اړه معلومات وړاندې کړل

هغه وويل: مونږ د افغانستان خپلواکی، د افغانانو خوښې او د افغانستان مذهب او کلتور ته په احترام قايل يو، نه غواړو، چې د افغانستان په داخلي چارو کې مداخله وکړو او يا له سياسي موقف څخه ناوړه استفاده وکړو

نوموړي زیاته کړه، چین د افغانستان په اړه ډېر ثابت او قوي دریځ لري او غواړي په هره برخه کې د افغانانو لاسنیوی وکړي او د افغانستان اقتصاد په پښو ودرېږي

ښاغلي حقاني نوموړي ته د ښه راغلاست ترڅنګ د چین هیواد له بشري مرستو څخه مننه وکړه او زیاته یې کړه، چې دغه مرستې د افغانانو اساسي ستونزه نشي حل کولای، او باید له افغانانو سره د کار روزګار او معیشت په برخه کې مرسته وشي ترڅو نورو ته د سوال او لاسنیوي څخه خلاص شي

د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو مرستیال محمد ارسلاح خروټي د خپلو خبرو پردوام وویل: چین هیواد تل د افغانستان یو ښه ګاونډي پاتې شوی او تل یې له افغانانو سره همکاري کړې ده، هغه زیاته کړه، کومه مرسته، چې له چین هیواد څخه راځي، که دلته په افغانستان کې خریداري شي نو اندازه به یې څو چنده شي

نوموړي له چین هیواد څخه وغوښتل، چې د مهاجرینو لپاره د سکالرشیپونو یوه کوټه ځانګړې کړي

## صدهاخانواده در جوزجان کمک خوراکی دریافت نمودند

ویب سایت وزارت



آمریت امورمهاجرین جوزجان از کمک غذایی به 420 خانواده نیازمند ، معلول، معیوب، وورثه شهدا به تاریخ 5 ثور خبرداد.

به گفته منبع، مساعدت مذکورکه شامل ده کیلو آرد، پنج کیلو برنج ، پنج لیتر روغن ،یک کیلو چای سبز، یک کیلو شکربود، از جانب مرکز علمی و تحقیقی نهاد های اسلامی کشور ترکیه تهیه وبعد ازسروی به خانواده های یادشده توزیع شد.

## تخار او غورکي کې لسګونو ارمنوکورنیو سره مرسته وشوه

ویب سایت وزارت



د کډوالی نړیوال سازمان (IOM) له لورې په غور او تخار ولایت کې (۱۱۷) اړمنو کورنیو سره د ثور په (۵) نغدي مرسته وشوه.

د یادو کورنیو له ډلي په غور ولایت کې (۳۹) تنو هریو ته(۲۵۰۰۰)، دوو ته (۲۸۰۰۰) او شلو نورو ته (۱۶۰۰۰) او په تخار ولایت کې (۵٦) تنو ته په بېلابېلو کټګوریو کې نهه زره، پېنځلس زره او شپاړس زره افغانی نغدې د کور د کرایه، درملني او د خوراکي توکو داخیستو په موخه ووېشل شوې.

## روندا ته د کډوالو د ستنولو په هکله د برېتانیا او روندا ترمنځ تړون

مهاجرنیوز

څه موده مخکی د برېتانیا حکومت له افریقایي هیواد روندا سره یو تړون لاسلیک کړ چې له مخې به یې هغه کسان چې په ناقانونه طریقو خانونه برېتانیا ته رسوي، دوی به له دغه هیواد څخه روندا ته استول کېږي. که څه هم تر دې دمه دغه

تړون عملي شوی نه دی، خو کډوال یې په هکله بېلابېل نظرونه لري. کډوال نیوز د فرانسې له کالې ښار څخه راپور ورکوي .

نن دوشنبه د اپریل ۲۵ د کالې ښار د سکور کاتولیک د ورځني مرکز په حویلۍ کې ځینې کډوال والیبال کوي. ځینې نور بیا ډوډۍ خوري او یا په حویلي کې ګرځي او له یو بل سره خبرې کوي .

مومن او جاوید دوه افغان کډوال دي. دوی چې د کابل د ګلدرې اصلي اوسېدونکي دي، نن د برېتانیا او روندا ترمنځ د هغه تړون پر سر بحث کوي چې له مخې به یې لندن دغه هیواد ته رسېدلي ناقانونه کډوال روندا ته استوي.

جاوید وایي: «زه اصلا نه پوهېږم چې روندا چېرته ده؟ خلک وایي چې په افریقا کې ده. زه له افغانستانه راغلی یم چې لندن ته لاړ شم نه افریقا ته«.



سازمانونو په حواله کې دمګړۍ کالې کې نږدې ۱۵۰۰ کډوال اوسېږي. انځور: کډوال نیوز

دغه ۱۸ کلن افغان کډوال چې ۱۸ میاشتې مخکې له افغانستان څخه وتلی دی وایي، له زیاتو سختیو او د ګواښونو ډک سفر وروسته یې ځان کالې ته رسولی دی او اوس له مجبورۍ څخه برېتانیا ته ځي. د نوموړي په حواله: «دلته څوک سند نه راکوي. ملګري مې وایي چې دوه درې کاله یې انتظار ایستلی خو لا هم سند نه لري. زه د ایټالیا له لارې فرانسې ته راغلی یم. هلته مې د ګوتو نښې ثبت شوې او زه دوبلیني یم. فرانسه دوبلیني شوي کډوال اخراجوي«.

نوموړی په برېتانیا کې ملګري او خپلوان هم لري. هغه وايي چې لومړی به د لاریو له لارې برتانیا ته د ورتګ هڅه وکړي، خو که يې نتيجه ور نه کړه بیا به کښتیو کې برتانیا ته ځي.

مومن چې د جاوید ماما دی وايي هغه هم بلغاریا کې د خپلو ګوتو نښې لګولې دي او له فرانسې څخه يې د اخراجېدو امکان شته. دغه ۲۵ کلن افغان وايي چې باید برېتانیا ته لاړ شي ځکه کومه بله لاره نه ده ور پاتې. هغه وايي چې د لندن او روندا ترمنځ تړون يې پر تصمیم هېڅ کوم اغېز نه لري: «لومړی برېتانیا ته ځم او کله مې چې هلته ځان ورساوه، بیا د تړون په اړه فکر کوم. اوس دومره پوهېږم چې د برېتانیا دغه پرېکړه تر اوسه نهايي شوې نه ده«.

یو بل افغان کډوال روح الله چې سوک وهونکی دی بیا وايي، یو کال يې فرانسه کې تېر کړی دی خو اسناد يې نه دي ترلاسه کړي. دغه شل کلن افغان څلور کاله مخکې له افغانستانه وتلی او نن (پرون دوشنبه د اپریل ۲۵ (له پاریس څخه کالې ته رسېدلی دی. هغه وايي: «یو کال مې پاریس کې تېر کړ. چارواکو یو کاغذ راکړ، خو بیا له ما نه چا پوښتنه ونه کړه چې چېرې یم. ما د مهاجرت پر لارو ډېره خواري ایستلې، له برتانیا څخه نه ډارېږم«.

د روح الله په حواله د لندن او روندا ترمنځ تړون يوازې تورپوستو کډوالو ته ځانګړی شوی دی، مانا يې دا چې برتانیا به د نورو هیوادونو اتباع روندا ته نه استوي.

»د رواندا او برېتانیا ترمنځ تړون کډوال اندېښمن کړي«

په ورته مهال د سکور کاتولیک د ورځني مرکز غړی انتوان ګیتان وايي چې که څه هم له تېرو څو کلونو راهیسې کډوال له اندېښنو او ناهیلیو سره مخ دي، خو اوس دغه تړون «دوی نور هم اندېښمن کړي دي». د نوموړي په وینا: «ځینې کډوال چې په اروپايي هیوادونو کې يې د خپلو ګوتو نښې لګولې دي او دوبلیني شوي دي، برتانیا د هغوی لپاره وروستی شونتیا بلل کېدله. خو اوس له دغه تړون سره وضعیت لا پیچلی شوی دی ».

نوموړی زیاتوي چې د همدې کبله د هغو کسانو په شمېر کې زیاتوالی راغلی دی چې تر دغه تړون وروسته يې فرانسه کې د پناه غوښتنې کړې ده .

بل پلو د یوتوپیا ۵۶ غړې مارګوریت کومب وايي: «ځینې کډوال نور نه غواړي چې برتانیا ته ولاړ شي. ځینې کسان وايي چې دوی به د ګواښونو سره سره مثلا بېرته اریتریا ته ستنېږي خو نه غواړي چې روندا ته ولېږدول شي. ځینې نور بیا فرانسه کې د خپلو دوسیو د وړاندې کولو په هکله فکر کوي«.



کالې کې د کډوالو کمپ. انځور: کډوال نیوز، دانا البوز

**د تړون په هکله د معلوماتو نشتوالی او ګنګوسې**

**سوډانی کډوال خالد چې له دوو میاشتو راهیسې د کالې په کوکل کې اوسېږي وايي دغه تړون اندېښمن کړی دی. هغه د ګڼو نورو سوډانیانو په شان د تړون د جزیاتو په هکله د معلوماتو له نشتوالي څخه شکایت کوي. په وینا یې: «موږ اوس کالې کې انتظار باسو. لومړی باید کافي معلومات ترلاسه کړو، باید پوه شو چې ایا دغه تړون عملي کېدونکی دی که نه».**

**دغه ۲۲ کلن کډوال په پام کې لري چې لاریو کې ځان برېتانیا ته ورسوي ځکه د کښتیو له لارې برتانیا ته د اوښتو لپاره کافي پیسې ورسره نشته. هغه په فرانسه کې هم د پناه غوښتنه نه شي کولی ځکه دوبلینی شوی دی.**

**یو بل کډوال ابراهیم چې د عراق د کردستان د سلیمانیې سیمې څخه راغلی دی وايي، هغه هېڅ نه پوهېږي چې روندا د نړۍ په کومه برخه کې موقعیت لري. نوموړی چې ایټالیا کې یې د خپلو ګوتو نښې لګولې دي وايي که فرانسه کې پاتې شي ښايي ایټالیا ته بېرته واستول شي .**

**دغه ۲۹ کلن کډوال زیاتوي چې د تړون تر عملي کېدو یا نه کېدو پورې به انتظار باسي. هغه په دې آند دی چې یوازې هغه کسان روندا ته استول کېږي چې د کښتیو له لارې ځانونه برتانیا ته رسېږي، خو د لاریو له لارې برتانیا ته رسېدلي کډوال تر دغه قانون لاندې نه راځي.**



عراقی کډوال ابراهیم چې کالي کې اوسیږي وايي تر هغه وخت پورې به انتظار باسي چې د تړون عملي کېدو نه کېدو په هکله معلومات ترلاسه کړي. انځور: کډوال نیوز، ژولیا دومون

د یوتوپیا ۵۶ غړې مارګوریت کومب بیا وايي چې دوی هم د معلوماتو له نشتوالي سره مخ دي. د همدې کبله تر اوسه د یاد تړون په هکله کډوالو ته معلومات نه دي ورکړي.

نوموړې زیاتوي» :ټول په یو نامعلوم حالت کې شپې سبا کوي او نه پوهیږي چې څه باید وکړي.» په وینا یې که دغه تړون عملي شي دا به د «اخراج» په مانا وي .

د یاد تړون په هکله د جزیاتو نشتوالی د کډوالو ترمنځ د بېلابېلو ګنګوسو د خپرېدو سبب شوی دی. د یادولو ده چې تر دې دمه دا معلومه نه ده چې ایا دغه تصمیم عملي کېدونکی دی که نه. دا هم معلومه نه ده چې د یادې پرېکړې د عملي کېدو په صورت کې به د کومو هیوادونو اتباع روندا ته ولېږدول شي.

»تصمیم کې مې بدلون نه دی راغلی«

سوډانی کډوال علاالدین چې د کالي اولد لیدل کمپ کې اوسیږي وايي که څه هم د دغه تړون له امله یې شوک لیدلی دی، خو تصمیم کې یې «کوم بدلون نه دی راغلی». دغه ۲۵ کډوال چې له ۷ میاشتو راهیسې په کالي کې اوسیږي وايي، په

پام کې لري چې د لاریو له لارې برتانیا ته ولاړ شي. په وینا یې: «له ترون وروسته هم ګنو کډوالو ځانونه برتانیا ته رسولي دي.» هغه وایي چې دا تصور هم نه شي کولی چې روندا ته ولاړ شي ځکه روندا خوندي هیواد نه بلل کیږي .

## تیره ورځ پر تورخم درې زره افغانان هیواد ته ستانه شوي

دویچوله

په ننګرهار کې طالبانو ویلي دي چې تېره ورځ پر تورخم بندر شاوخوا درې زره هغه افغانان هیواد ته را اوښتي چې له کرښې بلې غاړې ته د پاسپورټ نه لرلو له امله بند پاتې ول.



ویل شوي دي چې زرګونه افغانان وروسته له هغې له کرښې پورې غاړې بند پاتې شول چې پاسپورتونه یې نه لرل او پاکستان پر تذکرې اجازه نه ورکوله، چې هېواد ته ستانه شي.

خو په ننګرهار کې د طالبانو چارواکیو ویلي دي چې پر پېژندپانو هیواد ته د افغانانو راګرځېدلو پروسه یې د پاکستان له چارواکیو سره له همغږۍ وروسته پیل کړې ده.

په تورخم کې د طالبانو کمیسار سید غازي الله هاشمي دویچه ویله ته وویل، یوازې تېره ورځ شاوخوا درې زره کسان پر پېژندپانو پر تورخم بندر هیواد ته راستانه شوي دي.

هغه وایي، پر تذکرو افغانستان ته د راوښتلو لومړۍ جوپه د اپریل میاشتي پر ځوارلسمه هېواد ته راګرځېدلې وه.

کمیسار غازي الله هاشمي وایي، په دقیق ډول نه شي ویلای چې تر اختره به څومره کسان په دې پروسه کې هیواد ته راستانه شي؛ خو د ننګرهار ولایت په یوې خبرپاڼې کې راغلي دي چې تمه ده تر اختره نیږدې شل زره کسان هېواد ته راوګرځي.

غازي الله هاشمي وایي: «تېره ورځ تقریباً درې زره مسافرین دېخواته راغلي دي. نور تعداد نه مالومیږي، چې هاخوا څومره مسافرین دي. ان شاالله دې اونۍ کې به راواوړي«.

طالب چارواکیو ویلي، په تذکیرو هېواد ته راګرځېدل لنډمهالي دي او بنایي دا پروسه ډېر دوام ونه کړي.

ننګرهار کې د طالبانو د حکومت چارواکیو د مالوماتو له مخې، د پاکستان چارواکیو ډاډ ورکړی چې پاتې کسان به هم ژر اجازه لیکونه تر لاسه او هېواد ته به ستانه شي.

یو راستون شوی کډوال چې غواړي نوم او غږ یې په راپور کې خپور نه شي، دویچه ویله ته وویل، له تېرو درې اونیو راهیسې په دې تمه و چې وطن ته به ستنیږي؛ خو ایله پرون وتوانېد چې هېواد ته وګرځي.

هغه د پاکستاني پوځ او ملېشې له ناسم چلن شکایت کوي او زیاتوي چې زرګونه خلک چې پاسپورتونه نه لري په دې تمه دي چې هیواد ته به وګرځي.

د تورخم له لارې هیواد ته راستانه شوي دوه افغانان عبید او سعیدالله دویچه ویله ته وویل، په بند پاتې کسانو کې له ځینو سره ماشومان او مېرمنې هم شته چې د روژې په میاشت کې له بد وضعیت سره مخ دي او هغې غاړې ته د اوسېدو له پاره خرڅ هم نه لري.

تر دې مخکې پاکستان عاجلو ناروغانو ته له پاسپورت پرته اجازه ورکوله، چې هغه هیواد ته لاړ شي؛ خو هیواد ته په تذکره سره په راتګ کې ستونزه نه وه او دا ستونزه وروسته پیدا شوه.

د افغانستان دوو ګاونډیو هیوادونو، ایران او پاکستان ته د افغانانو تګ، راتګ تر نورو زیات دی. دغو دوو هیوادونو ته ډېر افغانان د کار، زده کړو او درملنې له پاره ورځي؛ خو په تلو، راتلو کې له ستونزو شکایتونه کوي.

په افغانستان کې د تېر میلادي کال د اګست له بدلون وروسته ګڼ شمېر افغانان په مختلفو لارو ګاونډیو او نورو هیوادونو ته تللي او ځینې یې اوس هم د وتلو هڅې کوي؛ خو پاکستان ته له پاسپورت پرته تللي ګڼ شمېر افغانان اوس په دې هڅه کې دي چې هیواد ته راوګرځي.

## تشییع جنازه هفت مهاجری که در نتیجه واژگون شدن یک قایق اخیراً جان های شانرا از دست دادند.




این قایق که با شمار زیادی از مهاجران در آب ها در حرکت بود، از جانب گارد ساحلی لبنان عقب رانده شده و وادار به بازگشت به ساحل شده بود. این قایق کوچک در زمان وقوع فاجعه، نزدیک به ۶۰ نفر را حمل می کرد، چند برابر ظرفیت اش را. شنبه شب این تراژدی آخرین مورد در روند رو به رشد چنین وقایع بود. عمدتا لبنانی ها و سوریایی ها سعی می کنند از لبنان به اروپا سفر کنند.

## اتحادیه دو حزب محافظه کار در آلمان: به ۵۰۰ هزار آپارتمان اضافی برای پناهجویان نیاز است

مهاجرنیوز

جناح اتحادیه دو حزب محافظه کار آلمان در پارلمان اعلام کرد، با توجه به روند آمدن آوارگان جنگی از اوکرایین به ۵۰۰ هزار آپارتمان جدید نیاز است. سخنگوی این جناح گفت، حکومت آلمان باید اهدافی را که در این زمینه تعیین کرده بود، تغییر داده و به روز کند .



از زمان آغاز جنگ در اوکرایین، بیش از ۴ میلیون تن فرار کرده اند/عکس Frank Hoffmann/DW :

**یان مارکو لوچاک، سخنگوی جناح اتحادیه دو حزب نامبرده در بخش سیاست ساختمان سازی روز سه شنبه (۲۶ اپریل ۲۰۲۲) گفت: «هدف حکومت ائتلافی برای ساخت ۱،۶ میلیون آپارتمان در این دوره کاری پارلمان، به خاطر شمار زیاد پناهجویان از اوکرایین، دیگر جدید نیست و باید به روز شود.«**

**لوچاک افزود، براساس ارزیابی کارشناسان به دست کم ۵۰۰ هزار آپارتمان اضافی دیگر نیاز است.**

**این سخنگو گفت، فقط در صورتی می شود به این هدف دست یافت "که همه محدودیت های ساختمان سازی از میان برداشته شوند، تعداد زیادی از قوانین اضافی لغو شوند، پروسه های ساخت و ساز تسریع شده و به خصوص هزینه های ساختمان سازی محدود شوند."**

**رقم ۵۰۰ هزار آپارتمان اضافی را اتحادیه برتر کمیته مرکزی املاک (ZIA) در اواسط ماه مارچ اعلام کرده بود، در صورتی که ۱،۲۹ میلیون تن از اوکراایین به محل سکونت در آلمان نیاز داشته باشند.**

**در دو سناریوی دیگر، کارشناسان گفته بودند که در صورت آمدن ۳۱۰ هزار پناهجو به ۱۲۰ هزار آپارتمان و برای ۸۱۰ هزار پناهجو به ۳۱۰ هزار آپارتمان نیاز است.**

خبرنامه